دپښتنو شهادت سلي سياسي ستم
نابرده م گروي باشيد په پيان بشر ... شناسګر باشد

(٤) صفحه

شهادت

ارګان مرکزي حزب اسلامي افغانستان

شمارهٔ مسلسل (١٠٥٤) سال هژدهم شمارهٔ (١٤١) يكشنبه (١٧) جدي ١٣٧٤ هـ ش - (١٧) شعبان المعظم ١٤١٦ هـ ق - (٧) جنوری ١٩٩٦ م

الهي لاربنوونه

نو داپرتاسي څه شويدي چي دمنافقانو په باب ستاسي په منځ کي دوه مفکوري ميندل کيږي، پداسي حال کي کومي بدي چي هغوګټلي دي دهغو لامله الله هغوي بيرته په شاګرځولي دي. آيا تاسي غواړي، چاته چي الله هدايت نه وي کړي هغه ته تاسي هدايت وکړي ؟ حال داچي څوك چي الله له لاري واړوي دهغه له پاره ته کومه لاره نشي پيداکولي .

(النساء - ٨٨)

وروړحکمتيار دننګرهار د روداتو ولسوالي په جامع جوماټ کي دجمعي لمانځه په خطبه کي :

روسان نن دافغانانو دخپل منځي وژني له لاري خپل انتقام اخلي

ننني مرحله دامتحان مرحله ده ، تردي امتحان وروسته به ان شاءالله اسلامي نظام تينګيږي

رباني اومسعود په اګاهانه ډول دملت پرخلاف جګړي ته دوام ورکوي

جلال آباد - دجدي ١٦ مه :
دحزب اسلامي افغانستان امير وروړ حکمتيار پداسي حال کي چي دزرګونوتنوهيوادوالوله خوا يي دروند استقبال کيده دجمعي په ورځ دننګرهارولايت درودداتو ولسوالي دمرکز حصارشاهي سيمي ته لاړاودجمعي لمونځ يي ددي سيمي دسلطان په جامع جومات کي اداکړ.

دشهادت خبريال له جلال آباد څخه ريپوټ راکوي وروړ حکمتيار دجمعي دلمانځه په خطبه کي دويناپه ترڅ کي وويل :بهرنيوقوتونو دتيرو څوکلونوڅخه راپدي خواه دمختلفو لاروڅخه هڅه کرله چي په افغانستان کي داسلامي نظام دټينګښت مخه ونيسي اوهغه هم ځکه چي داسلامي نظام ټينګښت دهغوي دګټو پرخلاف دي .

وروړحکمتيار دخپلوخبروپه دوام کي زياته کړه : روسانوتراوسه هم دافغانستان دخلکوله وژني څخه لاس ندي اخيستي ، هغوي اوس هم افغانان وژني، خويدي بتفاوت چي مخکي يي دتوپ او ټانك په واسطه وژل اوس يي دناچله پيسويه

(٤)مخ

انجنير قطب الدين «هلال» اومحمدنعيم «مصطفى» له افغان کمشنر سره وکتل

دافغاني مهاجرينو دبي حايه خورونى دمخنيوى غوښتنه وشوه

پيښور - دجدي ١٦ مه :
دحزب اسلامي افغانستان دسياسي کميسيون رئيس انجنير قطب الدين «هلال» اودپاکستان له حکومت سره دحزب دارتباط مسؤول محمدنعيم «مصطفى» دافغاني مهاجرينو دستونزو په اړه په پيښورکي دافغان مهاجرينو له کمشنر رستم شاه «مهمند» سره وکتل .

دشهادت خبريال ريپوټ راکوي پدي کتنه کي دافغاني مهاجرينو کمشنر سره په خبروکي په پيښور کي له وروستي

(٤)مخ

طالبانو د استاد "رباني" دنيولو پريکړه کړې

کندهار ته يي داستاد رباني دتلو له اعلان سره دلچسپي هم دهمدى له پاره ښودلي ده

طالبانو ويلي چي په ميدان ښارکي دمسعود نه نيولوپريکړه غلطي وه چي خورادرنه تمامه شوه

کويټه - دجدي ١٦ مه :
له کويټي نه يوي باوري منبع دشهادت ته وويل چي دطالبانو مشرانو دجدي په ٧ مه نيټه په کندهار کي دملامحمدعمر په دفترکي يوه عاجله غونډه وکړه ، چي پکي داستاد «رباني»ددي اعلان په باب چي چمتودي دمزاراوکندهارپه ګډون دمخالفينوټولو مرکزونوته ورشي، بحث وکړي .
منبع زياتوي چي دطالبانو دغورځنګ دمشرانو حيني په دي نظروچي داستاد «رباني» خبره ردشي اودطالبانودريځ په وسپاري اوغواړي چي دطالبانو د مشرانو دي بته اعلان شي چي/ ترڅوربانى استعفى نه وي کړي اوداتي/نه وي ويلي چي چمتودي واك دطالبانو غورځنګ ته سره دقدرت دانتقال په څرنګوالي وغږيږي ، ترهغي پوري نه وروسره په کندهار کي خبري کيداي شي او نه په کوم بل هيڅ

(٤)مخ

طالبان پيشنهاد رباني را براى مذاكره پذيرفتند

تهران - ١٦ جدي :
سران تحريك طالبان پيشنهاد رباني رئيس اداره كابل رابراي مذاكره پذيرفت .

براساس ګزارش خبرګزاري ايران نطاق طالبان روزګذشته اعلان کرد که سران اين تحريك پيشنهاد رباني رئيس اداره کابل راجهت مذاکره مي پذيرند .

دراپور آمده است اين درحاليست که مذاکرات بين نماينده ګان اداره کابل وګروه هاي مخالف براي پايان بخشيدن به جنګ وتشکيل حکومت موقت همچنان ادامه دارد .

کابل ياد آوريست که رباني رئيس اداره کابل به تاريخ ٢٨ د سمبر ګذشته آماده ګي خود را براي سفر به مقرهاي سياسي و نظامي مخالفان وګفتګو بارهبران مخالفين وحل اختلافات موجود درين کشورازطريق مذاکره رااعلان کرده بود.

ننګرهار ته داستاد سياف په مشرى راغلى هيئت دمسعود له اجازى پرته هيڅ نشى کولاى

دغه هيئت اوس دمشرقى شورا دبى اتفاقه کولو له پاره کار کوى

جلال آباد - دجدي ١٦ مه:
مورته څرګنده شويده چي ننګرهارته داستادسياف په مشري د کابل دادارې راليږل شوي هيئات هيڅ واك نلري دوي براځي اوبراځي دخپل ژوند داوږدولو له پاره پلمي لټوي، او نشي کولي چي دمسعود له اجازې پرته بوګام هم پورته کړي .

له ننګرهار نه زموږ خبريال دجلال آباد دښاريانودنظرياتوپه باب خبرراکوي : له څه مودې راپه ديخوا چي دکابل اداري

(٤)مخ

به حمايت ازمهاجرين افغان :

دافغان مهاجرينو پرخلاف مظاهره کوونکى د پوليسو لخوا ونيول شول

راولاکوټ - مرغومي ١٥ مه :
دراولاکوټ پوشمير محدود اوسيدونکو پدي سيمه کي دافغان مهاجرينو دميشته کيدو پرخلاف مظاهره وکړه . مظاهره کوونکوله حکومت څخه غوښتنه کوله ، چي افغان مهاجرين ددوي له سيمي څخه په وتومجبورکړي .

(٤)مخ

ګروه هاى مذهبى کشمير اجتماع نمودند

ګروه هاي مذهبي کشميرآزاد به حمايت ازمهاجرين افغان درمنطقه (باغ) تشکيل جلسه داده وتحرکات وشايعات اخراج مهاجرين ازکشميررا محکوم کردند.

روزنامه جنګ ګزارش ميدهد سخنرانان درين کنفرانس با زمزمه نمودن شعارهاي تحکيم اتحاد وبرادري ميان مسلمانان بخصوص ميان مردم مسلمان کشمير ومهاجرين افغان،حمايت شان را ازمهاجرين افغان مقيم کشمير اعلام داشته وتحرکات مبني براخراج آنهارا محکوم کردند. درګزارش ګفته شده که

ص(٤)

درديداراستاد سياف بامقامات پاکستانى مطرح شد

هيئت اداره کابل وارد اسلام آباد مى شود

طرفين به جلوګيرى ازتبليغات سوء عليه يکديګر وتلاش براى کاهش تشنج ميان طرفين ،احترام متقابل و حسن همجوارى متعهد شدند

اداره کابل موافقه نموده که هيئت بلند پايه اي را جهت مذاکره پيرامون مسايل عمده که به موجب آن روابط ميان حکومت پاکستان و اداره کابل دوباره برقرارګردد ، به اسلام آباد بفرستد .

به ګزارش مطبوعات پاکستان اين موافقه به تعقيب مذاکرات ميان پروفيسور سياف بامقامات سازمان استخبارات نظامي پاکستان (آي اس آي) تحت سرپرستي جنرال افتخاراحمد معاون آي ايس آي روزپنجشنبه درشهرك سرحدي تورخم صورت ګرفته است .

ګزارش به نقل ازيك منبع پاکستاني حاکيست که جانب اداره کابل پذيرفت که

ص (٤)

په اسلام آباد کى دهماهنګى شورا او دطالبانو دخبرود پيل احتمال

له شمال نه استاد حاجى محقق اوجنرال عبدالمالك دخبرو له پاره راورسيدل

نايى په دى دوو ورځو کى دطالبانو هيئت بيرته له کندهار نه راستون شي

پيښور - دجدي ١٦ مه :
په اسلام آباد کي دهماهنګي شوري اودطالبانو ترمنځ دخبرو دبيا پيل کيدو له پاره کار روان دي کيداي شي چي دراتلونکي سه شنبي په ورځ ددغو خبرومقدماتي پړاوپيل شي .
دشهادت ورځپاڼي ځانګړي خبريال ريپوټ راکوي : ددغوخبرو دبياپيل کيدو له پاره پوشمير هيئاتونه اسلام آبادته رارسيدلي اودخبرو درسمي پيل تروخته دخپل منځي مشورو له پاره تګ راتګونه زيات شويدي .
زموږخبريال زياتوي تراوسه دي خبرو دپيرله پاره په شمال کي دحزب وحدت اسلامي دپوځي او سياسي چارومسؤول

(٤)مخ

روزانه ده ها فاميل ازشهرکابل فرار مينمايند

کابل - ١٦ جدي :
روزانه ده هافاميل ازشهرکابل به سوي ولايات جنوبي وغربي کشورفرارمينمايند
به اساس ګزارش يك شاهدعيني که دو روزقبل ازشهرکابل به پشاور آمده است ازمدت ده روزبه اينسو دهها فاميلي که ديګر توان زندګي کردن درشهرکابل راندارند بامشکلات زيا دي ازساحات خط اول جنګ فرار نموده وبه ولايات ميدان وردك ولوګر پناه ميبرند .
براساس همين ګزارش فاميل هايي که ازشهرکابل فرارمينمايند توان خريداري مواد غذائي ومواد سوخت رانداشته وبه همين سبب شهرکابل را ترك ميکنند .
قيم مواد اوليه درشهرکابل روبه افزايش بوده که اين امرناشي از مسدود بودن

ص (٤)

دازرى دولسوالى عالمانو او مشرانو ديوى پريکړى په ترڅ کى :

دازرى ولسوالى چارى يوه (٢٥) کسيزه شورا سمبالوى

طالبانو ته اجازه نه ورکوو چى زموږ ولسوالى ته داخل شى

لوګر - دمرغومي ١٦ مه :
دلوګرولايت ازرو په ولسوالي کي ديوي غونډي په ترڅ کي نوموړي ولسوالي د اداري دچلولو په اړوند پولرفيصلي وشوي .
دنوموړي ولسوالي څخه دراراسيدلي ريپوټ په اساس دوه ورځي دمخه دنوموړي سيمي عالمانو اومشرانويوه غونډه جوړه کړي وه چي ددغي غونډي په لړکي بولرمهمي پريکړي وکړي .
ريپوټ وايي پدي پريکړه کي راغلي

(٤)مخ

په يوه ټانکر کى د اورلګيدو له امله په کابل کى دتيلو يوه ډيپو تباه شوه

کابل - دمرغومي ١٦ مه :
دګلرګاه په سيمه کي ديوه ټانکر دچاوديدو له امله دتيلو يوه ذخيره تباه شوه .
دکابل ښارڅخه درارسيدلي ريپوټ په اساس تيره ورځ دمازديګر په شلوروبجوکله چي دتيلو يوه ټانکردګلرګاه په سيمه کي ديوي ذخيري تهدتيلونه ډك اودهغه ځاي څخه دروانيدو په حال کي و په يوه ترغندي ولګيد .
په ريپوټ کي ويل شوي ټانکر ترلګيدو وروسته اور واخيست اودهغې لمبوني شااوخواسيمي ونيولي اوپه نتيجه کي هغه ذخيري چي ټانکرتري ډك شوي وهم اورواخيست چي دغه داورلمبي

(٤)مخ

پاکستان برنامه اخراج اتباع خارجى از اسلام آباد را روى دست ګرفته است

نګرانى اسلام اباد بيشترازناحيه بهارى ها وبنګالى هاست

اسلام آباد - ١٦ جدي :
پاکستان بخاطراخراج وتحت نظارقراردادن اتباع خارجي به اقدامات وسيع پرداخته است . طبق ګزارش هاي مطبوعات پاکستان ، حکومت پاکستان بخاطراخراج اتباع خارجي ازجمله مهاجران افغان، هندي هاوبنګالي ها ازاسلام آباد پايتخت اين کشور يك برنامه همه جانبه را روي دست ګرفته است .
ګفته مي شودکه حکومت پاکستان نسبت اختلافات موجود بااداره کابل ومناسبات خراب بين اسلام آباد وکابل درصدد است که برخي مهاجران مشکوك

ص (٤)

ايران خواستار اجلاس سران افغانى درتهران شد

تهران - ١٦ جدي :
ايران سعي دارد که رهبران تنظيم هاي جهادي افغان وسايرجناح هاي ذيدخل قضيه افغانستان دررابطه به حل معضله کشوربه بحث وګفتګوبپردازند .
منابع خبري پاکستان ګزارش مي دهندکه ايران ازرهبران تنظيم هاي جهادي افغانستان دعوت به عمل آورده که در تهران دورهم جمع شده و روي حل مسئله افغانستان مذاکره نمايند.

ص (٤)

درانتظار عزيزان آواره - مهاجرين شهرك مسلمان نشين ګوراژده سه سال قبل تحت تسلط متجاوزين صرب قرارګرفت . براساس پيمان اخير بين بوسنيا ، کروشيا وصربستان ، مهاجرين زنده مانده پس از سه سال دوباره به زادګاه خود برميګردند . عکس اطفال ساکن ګوراژد ، رانشان ميدهد که منتظرورود مهاجرين هستند تا به محض شناسايي عزيزانشان ، راه منازل ويرانشده، شانرا در پيش ګرفته واز بزرګان خود مژدګاني دريافت کنند.

دتولوقوتونوله يوځاى کيدلو پرته دافغانستان ستونزه نشى حل کيداى

انجنير عبدالغفار

جلال آباد - دجدي ١٦ مه :
ټولو جهادي ځواکونو زموږداسلامي جهاد په بريالتوب کي ستري سرښندني اوقرباني ورکړيدي.
دننګرهارولايت دګمرك رئيس اودحزب اسلامي افغانستان نوميالي قوماندان انجنيرعبدالغفاردشهادت ورځپاڼي له خبريال سره په مرکه کي زياته کړيده : روان حالت زموږ مجاهد ملت سخت ځوروي، په داسي حال کي چي زموږ مسلمان ولس دتيرو ،؟ځوتوږلخپراسلامي

(٤)مخ

آګاهى

پوهنتون ننګرهار اراده دارد تاشهرت شاګرداني را که درامتحان کانکور سال تعليمي ٧٤-١٣٧٥ پذيرفته شده اند ، بالترتيب ازطريق روزنامه شهادت اعلام بدارد. بناءً ازتمامي کسانيکه اسماي شان درفهرست پوهنځي ها درج ګرديده است ، تقاضا ميشودکه بتاريخ شانزدهم حوت ١٣٧٤ به پوهنتون موصوف حاضر شده وبه دروس خويش ادامه بدهند.

شهادت
ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
مؤسس : انجنیرحکمتیار
ناشر : ریاست ارشادوفرهنګ
سرمحرر : محمد نذیر «بشارت»
تحت نظر هیئت تحریر
تلیفون : ۲۵٦۳۷۸۹
آدرس پستی : ۱۰۳٦ یونیورستی تاون -پشاور

بیا اسلام آباد

ویل کیږي چي پروګرام دي، په اسلام آباد کي به بیامذاکرات پیل شي ،مذاکرات که پیلیږي نودهم آهنګي شوری، طالبانو، اومشرقي شوري ترمنځ به وي، دهمدي لپاره دجنبش اوحزب وحدت دوه مهم غړي دهیوادله شمال نه اسلام آباد ته راغلي دي .

داچي مذاکرات به څومره جدي وي، څومره به ګټهوروي، څومره به د«نشستند وګفتند وبرخاستند» مصداق وي، څومره به دعملي اړخ ددرلودوپه ځاي ،یواځي یوسیاسي اوتبلیغاتي مانوروي،څومره به ئي ابتکاردهغي مځکي دخاوندانووي چي «وریاندي اوریلیږي »، څومره به ئي ده نوروپهلواني » شاته دقوي انګیزي په توګه نقش لري، موږ وریاندي اوږد بحث نه کوو، خودا موضوع واضح ده چي دتیرو ټولو تجربو په پام کي نیولوسره زموږقوم ورپوري ځانګړي هیلي نشي تړلاي .

واقعیت دادي چي په سږني کال کي چي په اسلام آباد کي کومي خبري وشوي، هغه خورا ستومانوونکي اوبدخونده وي، په دي چي له یوي خوا ډیري اوږدي شوي اوله بل لوري ئي هیڅ مشخصه عملي نتیجه ورنکړه .

علاوه پر دي چي نتیجه ئي ورنکړه له یوه لوي سردرد سره ملګري وي .

په دي معني چي مذاکرات به تاوده روان وو، موافقي ته به نږدي شول، معاهده به لاسلیك شوه اودتړون دتطبیق دعملي داقدام پریکړه به وشوه ، مګرپه عیني حال کي به طالبان چورلټ دخبرولـه وجودنه منکرشول .

په یوه ورځ کي به متضاد خبرونه خپاره شول ، خلك به په یوه ذهني انتشارکي ولویدل، ګنګس به شول، پوښتنه به وورسره پیداشوه چي اخیر داکومه لوبه ده ، دهغوحلقوپه منځ کي چي ددوي دسرنوشت په ټاکلوبحث کوي، اوداځانونوحق بولي چي دملت دمستقبل دټاکلوپریکړه وکړي ، ولي دومره معیارونه پامال شول، ولي دومره بدمنطق واکمن شو، ولي داسي څه کیږي چي په ځان پوري دخنداګانوله جوړولو پرته بله معني نه لري .

خلکوته داهم یوه پوښتنه وه چي دمذاکراتودلوریوترمنځ چي دمواضعو دومره توپیروي چي دخبرو تروروستي پړاو ترخلاصیدو وروسته هم، یوکي دمذاکراتو له موجودیت نه انکارکیږي ، دهغو خبرواترو به مفهوم څه وي، نتیجه به ئي څه وي او د وخت له ضایع کیدوماسوابه ئي حیثیت څه وي ؟

په همدي وجه په پیل کي دطالبانواوهم آهنګي شوري خبري اتري بومهم خبرو، دهیواد داوضاع دبدلون لوبه شروع ګڼله کیده ،دکابل اداري مورال ئي په مځکه واهه ، ملت ته ئي دبحران دحل امیدونه راپیداکړل خودیوڅه وخت ترتیریدو وروسته دي موضوع خپل خبري اهمیت، رواني اثراوسیاسي اغیزي له لاسه ورکړي . اوکه انصافاً ووایو چي په دي کي ترټولولوي تاوان دطالبانو اسلامي غورځنګ وکړ .

په هغوي باندي دسیاسي اعتماد کولو احساس اومیلان خوراکمزوري شو، بل داچي دیوه ، متضاد کرکترمظاهره ئي وکړه اوتردي هم مهمه داچي دبحران په حل کي ئي اخلاص اوصمیمیت ترسوالونو لاندي واقع شو. په تیره اوس چي هغوي په کابل کي ماتي وخوړه اوبوځل بیا د رکود حالت رامنځ ته شو . که طالبان ددي رکود په ماتولو بریالي شي چي ظاهراً ئي احتمال دېخوا په څیرروښانه نه معلومیږي نوبیا خوبه دطالبانو مشکل یوڅه کم وي خوکه رکود ادامه وکړي نوبیا داسلام آباد دمذاکراتو دناکامولواو دهغونتیجي تـه د توجه اودرناوي نه کولو مسئولیت به طالبانوته لادروند تمام شي .

موږهیله کووچي که بیا مذاکرات شروع کیږي ،اوهدف یکي دبحران حل وي، نه نورمسایل، نوبیا لازمه ده چي په یوه نوي روحیه اونوي احساس شروع وشي اوبه معقولیت وریاندي ، عملي نتیجي دمرتب کیدو هڅه وشي .

له فرصت نه باید په محتاطانه توګه ګټه واخیستله شي

لومړی برخه

استاد قریب الرحمن « سعید »

دجدي په ۱۰ داستادبرهان الدین رباني پرامانې اعلان چي دهغي له مخي بي دخپلومخالفینوهریوجنرال عبدالرشید دوستم سره په مزارشریف کي او دطالبانو سره په قندهارکي دخبرواتروله پاره آمادګي ښودلي دبحران دحل په جهت کي ئي په سیاسي ډګر کي ډیره تودوخه رامنځته کړي.

داستادرباني دغه اعلان دایران دبهرنیو چارو دوزارت دمعاون اوداسیاداموررو

دمسئول ښاغلي بروجردي دبي شمیره سفرونو او هلو ځلو وروسته مخته راغلي ددغه منهوترووپه نتیجه کي بروجردي په مزارشریف کي دملي جنبش له ډګروسره دتفصیلي خبرو وروسته داستاددسفرله پاره شرایط برابره کړي و .

مزارشریف ته داستادرباني داحتمالي سفرداعلان په وخت کي پخپله بروجردي په شبرغان کي دجنرال دوستم ترڅنګ موجود و او دهماغي په «تضمین» ویه تأسف سره » داستادرباني یولوړرتبه هیئت دتشریفاتي ګارد دسل کسیزي ډلي سره یوځاي داستاد درسمي سفر له پاره دزمینې دبرابرولوپه خاطرمزارشریف ته تللي و .

هیئت غوښتل دښاغلي بروجردي ترمخ دجنرال دوستم سره دلارو دازادولو اویوبه بل دحملودنه کولو تعهد په ابتدائي توګه تیارکړي ترڅو داستاد رباني دووتګ سره سم ئي لاسلیك اوپریوالوته ئي واوروي .

ددي ترڅنګ داستاد رباني مشاورینو سل کسیز تشریفاتي مسلح ګارد هم مزارشریف ته انتقال کړي و ترڅو مزارشریف ته داستاد دراتلو په وخت کي تري رسمي استقبال وکړي .

خودښاغلي بروجردي اودکابل درژیم دهیئت هلي ځلي لکه څنګه ئي چي تري توقع درلوده هغسي کارجوړونکي ونه ګرزیدلي ځکه دجنبش مسئولینو چي دهماهنګي دشورا غړي دي، دکابل هیئت ته اوهم بروجردي ته دایه ډاګه کړه چي داستاد رباني څخه به هیڅکله هم دهیواد دجمهوررئیس په توګه استقبال ونکړي ، همداراز هغه ته به دجمعیت دلیهر اوامیرپه حیث هم ښه راغلاست ونه وائي بلکه برعکس هغه به دیوسپین ږیري اومشرپه څیرومني . ددي ترڅنګ ئي دجمعیت هیئت نژدي دوه ساعته (دراپوروتوپه اساس) هلته په هوایي جهازکي منتظر وساته اوبیائي وروسته یواځي دهیئت غړویعني ډاکترعبدالرحمن ، عزیز مراد او اکبري ته دهوایي جهاز څخه دښکته کیدو امروکړ پاته تشریفاتي ګاردئي بي وسلي کړ اوهلته د مزارشریف پـه هوائي میدان کي ئي دهیئت ترړارسیدو پوري وساتل . که څه هم جنبش غواړي استاد رباني د مزارشریف لوري ته سفر وکړي اوپه دي ترتیب دهغوي پـه خلاف داستادرباني دجهاد فتوا عـملاً غیر مؤثره کړي . اواستادرباني پخپـله دغه فتوي واخلي . اوجنبش په دي وتوانیږي چي ددي لاري استادرباني اودهغي دجنبش ضدملګري دهیوادوالوترمخ کم کړي .

داستادرباني او دایراني هیئت هم ددي سفرڅخه دذکرشوواهدافو ترڅنګ نورپورته اهداف هم درلودل . چي یودهغي هدفونو څخه داستادرباني د جمهوري ریاست ته داستاددمخالفینو ترمنځ رسمیت ورکول و. ایران دپخواڅخه استاد رباني دحکومت یوقانوني مشر په حیث پیژني، اوداډول سفرونه چي کومه ټاکلي اجنډاله ځانه سره ونلري پخپله دهغه قانونیت ته لاره پرانیزي .

دبلي خوانه دهماهنګي دشورا دنورو غړو تنظیمونوغواهم مزارشریف ته داستادداحتمالي سفرپه هکله کوم عکس العمل نه دي راپه ډاګه شوي خودجنبش اوهماهنګي دشـورا دغړوولونظریه دي هکله همدادي چي که داستاد رباني سره خبري اتري کیږي نوهغه داستادسره دجمهوررئیس په توګه نه بلکه دجمعیت دمسؤول په حیث کیږي داچي هغوي استاد رباني دجمعیت دمشر په حیث نه مني کیداي شي عمده اومهم علت ئي پخپله داستادرباني هغه استعفاوي چي هغه دحل وعقد ترنامه لاندي په دائره کړل شوي شورا کي دجمهوررئیس په څیر دخپل انتخاب نه وروسته دغي شوراته په خپله وینا کي اعلان کړه اوپخپل ځاي ئي استاد محمدموسي توانا ، وروسته ئي بیا داستادرباني دپالیسیو په خلاف اقدام وکړ اومزارشریف ته ولاړ، دجمعیت اسلامي امیر اعلان کړ.

همداراز جنبش دي ته حاضرنه و چي داستادرباني دسفرپه وخت کي یوځه داسي تعهدات دهغه سره لاسلیك کړي چي دهیواد دستونزو دحل په جهت کي په هیڅ ډول ممد اومعاون نه ثابتیږي . اودکابل درژیم مسؤولین تل غواړي دخپلو مخالفینو سره پـه دوه موضوعاتو چي هغوي ته خورامهم اوحیاتي اهمیت لري بحث اوتعهد وکړي چي په دي کي لمړي ئي دکابل پـه لـور دټولو ترانزیټي لارو خلاصون اوبل د اوربند مسئله ده . خو مخالفین بیابل نظرلري اووائي چي دهرڅه

دمخه دجنګ عامل چي دواکمني انتقال دي، باید حل و فصل شي دغـه نور موضوعات دواکمني دانتقال نه وروسته پخپله حل کیږي اومناقشي ته اړتیانلري .

مـزار او قندهارتـه د استادرباني دسفراعلان پخپله دکابل په حاکم ائتلاف کي هم څه ستونزي راولاړي کړي اوهغوي ئي ، چي دجنرال دوستم سره په څینو اموراتوکي کلك مخالفت لري، داستاد رباني پـه خلاف بغاوت ته هڅولي . دڅینوباوري سرچینو په حواله ویل کیږي چي استادسیاف چي داستادرباني درژیم کلك ملګري دي داستادرباني سره په دي مسئله خپـل مخالفت اعـلان کړي اوتهدیدئي ورکـړي چي که چیري استادرباني مزارشریف ته دجنرال دوستم دلیدلو لـه پاره ولاړنوبیا به نوموړي (استادسیاف) ددغه رژیم ترڅنګ نه وي ـ که څـه هم داستادسیاف دغه دریځ نوي بریښي ،ځکه چي مزارشریف ته اوباجنرال دوستم سره دلیدلو اوبحث له پاره داداستاد رباني لمړني سفرنه ویلکه هغه دوه دري ځله پخواهم ، په داسي حـال کي چي محترم استادسیاف ئي پـه کابل کي ملاتړته ناست و، سفرونه کړي اودهغي دقناعت په خاطرئي هیئتونه ورلیږلي . هغه (جنرال دوستم) ته ئي دوزوي درجه ورکړي وه . (۱۹۹٤) کال په ترکیـه کي دECO په کنفرانس کي دګهون په وخت کي ئي جنرال صبب په کابل کي دجمهوري ریاست کفیل ټاکلي و. خو بیا هم داوسني اعلاناتو په اساس ددغه ډول سفرونو (که دکیدو امکان ئي موجود وي) وروستي نتایج به داستادسیاف ددغه اوسني موقف پوره څرګندونه وکړي . ویل کیږي چي قندهار ته داستاد رباني د سفراعلان دمزارشریف دسفردتوجیه لـه پاره شوي و اوکه نه تراوسه پوري دکابل داداري دغـمي یولوړرتبه هیئت دتشریفاتي ګاردسره یوځاي داستاد سفردمقدماتو دبرابرولو په خاطر، پـه داسي حال کي چي دطالبانو غورزنګ ئي داستقبال له پاره سترګي په لاردي، قندهارته نه دي استول شوي .

استادرباني پخـوادي چي دمزار اوقندهارله پاره دخپل سفردپروګرام اعلان وکړي په کابل کي دطالبانو دغورزنګ دجنګي او حربي مانوروتوڅخه اوهم دهماهنګي د شـورا دنظامي ځواکونو دتهدیدڅخه اویل لوري په کابل کي ناوړه اقتصادي بحران اوهلته داخلاقي فساد دبي حده پرنیت اواجرائیوي امورو دمکمل رکود څخه نوربه تنګ راغلي ، ددي ترڅنګ دکابل ښارهره ورځ دراکټي دزو اوهوائي بمباریو سره مخ دي، په لسګونو بي ګناه اوبي دفاع اوسیدونکي ئي دمرګ سره مخ کیږي، قحط عام دي اوبین المللي ادارو خپل کومکونه درولي ، دولت په ملي اوبین المللي سویه اعتماد دلاسه ورکړي .

دروس ،هنداوایران لاسونه دڅینونورو هیوادوپه شمول دهیواد په داخلي اموروکي دخپلوګټو دساتلو په خاطررا اوږده شوي ، په تیرو دري کالـو کـي ئـي دخپل اقتداردوام په خاطر هغوي دخپلوجهادي ورونوپرځاي ئي د ملت اولس په قاتلینو اعتماد کړي اودخپلوورونو دځپولو په

> ویل کیږي چي قندهار ته داستاد رباني دسفراعلان دمزارشریف دسفردتوجیه له پاره شوي و اوکه نه تراوسه پوري دکابل داداري دغمي یولوړرتبه هیئت دتشریفاتي ګاردسره یوځاي داستادسفردمقدماتو دبرابرولو په خاطر، په داسي حال کي چي دطالبانوغورزنګ ئي داستقبال له پاره سترګي په لاردي، قندهارته نه دي استول شوي .
> استادرباني پخوادي چي دمزاراوقندهارله پاره دخپل سفردپروګرام اعلان وکړي په کابل کي دطالبانو دغورزنګ دجنګي اوحربي مانوروتوڅخه اوهم دهماهنګي د شورا دنظامي ځواکونو دتهدیدڅخه اویل لوري په کابل کي ناوړه اقتصادي بحران اوهلته داخلاقي فساد دبي حده پرنیت اواجرائیوي امورو دمکمل رکود څخه نوربه تنګ راغلي ، ددي ترڅنګ دکابل ښارهره ورځ دراکټي دزو اوهوائي بمباریو سره مخ دي، په لسګونو بي ګناه اوبي دفاع اوسیدونکي ئي دمرګ سره مخ کیږي، قحط عام دي اوبین المللي ادارو خپل کومکونه درولي ، دولت په ملي اوبین المللي سویه اعتماد دلاسه ورکړي .

> دکابل د رژیم مسؤولین تل غواړي دخپلو مخالفینوسره په دوه موضوعاتو چي هغوي ته خورامهم اوحیاتي اهمیت لري بحث اوتعهد وکړي چي په دي کي لمړي ئي دکابل په لور دټولو ترانزیټي لارو خلاصون اوبل داوربند مسئله ده .خو مخالفین بیابل نظر لري او وائي «چي د هرڅه دمخه دجنګ عامل چي دواکمني انتقال دي، بایدحل و فصـل شي دغـه نور موضوعات دواکمني دانتقال نه وروسته پخپله حـل کیږي او مناقشي ته اړتیانلري .

خاطر ئي عقـده من اوحسود روسان اوهندوان رامخته کړي . دقومونو ترمنځ ئي دنژادي تبعیض دراپیداکیدو په جهت کي هیڅ ډول کمی نه دي کړي .خوددي ټولو ناروااوترڅنګ بیاهم درژیم مخالفینو دخبرواترو اودموضوع دمسالمت آمیزه حل فضا نه ده مکدره کـړي . هروخت ئي داستادرباني ته غوښتي چي که غواړي په هیواد حکمراني وکړي نودملت آراوته دي دمراجعه وکړي، ځکه چي دادولس حق دي چي خپل حکمران پخپله وټاکي . دهمدغو وواندیزونو په رڼاکي څوځله تعهدونه وشـول . د اسلامي تحریك دراتولیدو لـه پاره کاریبل شو ... خوزغم ئي چانه درلود .

په هرصورت داڅکه بیا دکابل درژیم اودهماهنګي دشورا ترمنځ دخبرواترو افواهاتوزیاتي انګازي خپري کړي . دکابل داداري لخواپه دي هکله دخپلوافرادو دمورال داوچت ساتلوپه خاطر یوډول اویل ډول اعلانونه اوتبلیغات صورت نیسي .

حقیقت دادي چي د کابـل داداري دنمایندهٔ ډاکترعبدالرحمن چي هلته په اداژه کي دوهم سیري حسابیږي دایران دولت په مینځګړتوب هلته په ایران کي دهماهنګي شورا اوحزب اسلامي دنمایندهٔ جریرصیب ترمنځ لمړي لیدنه دنومبر په اخري ورځوکي وشوه . ددي لیدني کتني په نتایجویاندي دبحث وروسته دهمدغي دواړوترمنځ دوه ځلي دماهیرپه سیمې کي لیدني کتني وشوي . ترڅنګ ئي دهماهنګي دشورا دغړو ترمنځ هلته په

مزارشریـف کـي څو ورځي پرلپـسي غونډي وشوي ترڅو دهماهنګي دشورا دواحد دریځ په هکله څه نتایج ترلاسه کړي . ځکه چي داکترعبدالرحمن یواځي دحزب اسلامي د هیئت سره نه بلکه هلته ئي په بامیانوکي دحزب وحدت اسلامي دمشر محترم استا کریم خلیلي سره اوهم ئي په مزارشریف کي دملي جنبش دمسئولینو سره لیدني کتني درلودي .

دکابل درژیم دهیئت هڅه داوه چي دهرتنظیم سره په ځانګړي ځانګړي توګه معامله و کړي ، ممکن یوهدف ئي داهم وي چي د هماهنګي دشوراغړي تنظیمونه یوپه بل بي اعتماده او یودبل څخه ئي جلاکړي .

خودهماهنګي دشورا دغړوترمنځ پرلپسي تفاهم دغه شورا نوره هم غښتلي کړه داستاد رباني دهیئتونو ترڅنګ دایران داسلامي جمهوریت هیئتونه په خورا ګړندیو فعالیتونو بوخت دي. اوغواړي چي دهماهنګي د شورا اودکابل درژیم ترمنځ دائتلاف دمنځته راوړو اوبالرترلره دکابل داداري او طالبانو ترمنځ دجنګ په وخت کي ددغه شورا دبي طرفه کولو له پاره دخپلو ډیپلوماتیکوتجربو څخه کارواخلي .

ـ داسي بریښي چي داستادرباني دغه اوسني ابتکار هـم د ښاغلي بروجردي دهلوځلو نتیجه وي .

استاد رباني دخپل همدغه ابتکار له مخي غواړي دحزب اسلامي دامیر محترم حکمتیار سره مخ په مخ خبري وکړي. استاد رباني په دي هکله دحزب اسلامي دننګرهار دولایت امیر فضل حق مجاهد صیب ته یو تفصیلي لیك را استولي ترڅوني دمحترم حکمتیار صاحب سره دلیدلو زمینه برابره کړي . همداراز استادسیاف چي په دي ورځوکي (ددي مضمون ترنوشتي پوري) په جلال آباد کي میشته دي غواړي په دغـسي یوه برنامه ګاروکړي .خو دښاغلي حکمتیار

(٤)مخ

حال دویلو لایق ندی

عروج او زوال

میوند

جنګ ورځپاڼی لاهورته د پاکستان د پخوانی صدراعظم ښاغلی نوازشریف د سفر په اړه د اظهر سهیل یومضمون خپورکړی چی په لوستلو یی کیدی شی زما غونډی نورهم لر او ډیر له خپلو خیالونو او سوچونو سره بوخت ساتلی وی.

اظهرسهیل چی دجنګ ورځپاڼی همیشنی کالم لیکونکی دی په فضایی سفرونوکی له همغه امتیازاتو برخمن دی چی سیاستمداران او نور حکومتی لویان یی لری .

دی لیکی :« کله چی په وی ای پی لاونج کی موږ د الوتنی په انتظار ناست وو د پاکستان د اطلاعاتو او نشریاتو وزیرخالد احمد کرل او څونور شخصیتونه هم حاضر وو هغوی هم دلاهورپه سفر روان وو - الوتنی ته لاڅه وخت پاتی وو چی ښاغلی نوازشریف هم وی ای پی لاونج ته تشریف راووړ - خالد احمد کرل اونورو اکابرینو ځانونه یوه اویله خوا مصروف وښودل چی کتی نوازشریف ته یی پام نه وی شوی - هغه هم شاوخوا وکتل خو هیڅ وړوسره د مخامخ کیدو تلوسه څرګنده نکړه او دهیواد له پخوانی صدراعظم سره مخامخ کیدوته هیڅوك هم تیانه معلومیدل . یواځی «میامحمد جاوید په ډیر درناوی له هغه سره ستړی مشی وکړه او دمصلحتونو بوتان یی دړی وړی کړل . پدی کسانو کی څو تنه داسی هم وو چی د اقتدار پروخت یی د ښاغلی نواز شریف قصیدی ویلی خو اوس وورسره لاس - ووکولوته هم زړه تازه وو - ښاغلی نوازشریف ته به ضرور دا حقیقت څرګند شوی وی ځکه خو دی په لاونج کی د کیناستو پرځای تیغ د الوتکی خواته روان شو .

په همدی وخت کی دلاونج مؤظفینو له یو بل سره ډیر بیرنی ټماسونه ونیول او یو ډول وارخطایی یی له حرکاتو څرګندیدله - هریوه ته به مؤظف ورغی څه به یی ورته وویل اوبیرته به سستون شو - پخپلو کی له مشوره وروسته یو تن ماته راغی چی په الوتکه کی یوه څوکی داسی ده چی مخامخ کیناستوته یی هیڅوك چمتوندی - که تاسی مهربانی وکړی اوهلته کینی - پوښتنه می وکړه ولی هغه څوکی څه خرابه ده ؟

په ماته کړوده لهجه یې ، وویل : نه مخامخ یې میا صاحب ناست دی .

زه میاصاحب ته په مخامخ څوکی کیناستم . خالد احمد کرل - حامد ناصرچه او میاصاحب یو بل ته سلام هم ورنکړ - په لاونج کی چریه چوپتیا وه میاصاحب خپل مخ ته اخبارنیول ؤ او تړپایه یی د اخبارپه یوه مخ اوخنی یوه کالم کی سترګی تومبلی وی داسی معلومیده چی اخبارۍ بواځی د یوی پردی په ډول مخ ته نیولی وی - د الوتکی میلمه پالو د چای او خوراك پوښتنه وکړه خوهیجا یی بلته قبوله نکړه او د تړولواشتها بنده وه .

یواځی ماالو میرمنی می بسکت له یو ی پیالی چای سره نوش جان کړل.

سکوت او چوپتیا هماغسی حکم چلاوه یو ، میلمه پاله د میاصاحب خواته راغله یوکارت یی ورته ونیو ویی ویل صاحب وروسته دیوه ماشوم غوښتنه ده .

دمیاصاحب څیره وغوړیده او په غور او فکریی ولیکل « له نیکو هیلو سره -میامحمد نوازشریف » میلمه پالی بیا عرض وکړ صاحب څه خو واخلی - میاصاحب یی ږ ځواب ؟ ، وویل : که د الوتکی پیلوټ اجازه راکوی چی په کابین کی وورسره کینم او د الوتکی د کوزیدوننداره وکړم -لږ وروسته میلمه پاله راغله ویی ویل صاحب الوتکه کوزیږی که تاسی غواړی په کابین کی کیناستی شی - اومیاصاحب هم کابین ته تشریف یووړ .

دمیاصاحب دڅیری په یو اړخ د لمروانګی غوړیدلوی -ما لیدل چی د سر په ویستو کی ئی سپین لګیدلی وو نیوهیم چی میاصاحب د الوتکی د کوزیدو ننداره ولی په زړه اوویدلی وه پداسی حال کی چی دهغی د ځوانی جهازله وخت سره د مقابلی په ډګرکی ماتی خوړلی وه - د الوتکی کوزیدل د ده لپاره ولی په زړه پوری وو ځکه دی خپله داقتدار له جهازنه کوزشوی وو . او دبل چا د کوزیدو لپاره په یوه بله مقابله لګیا و .

اقتدارد عروج اوزوال یو تعبیر دی - په دغه تعبیر پوهیدل ضروروری یوڅوك څنګه عروج ته رسیږی او څنګه پریوځی - دا یو ډیر ښه سوال او درس دی زوال په هر چا راځی د ټولو انجام زوال دی فنا او زوال د انسانی ژوند د پای ټکی دی - څوك چی دعروج په هڅه او لټه کی وی هغوی باید پرزوال او پریوتو نوښه سوچ کړی وی - که چا د دغو پریوتو خیال او فکر نه وی ساتلی دهغوی برخلیك به داسی وی لکه دافغانستان د اقتدار د مدعیانو چی دخپل عروج دملت د زوال ناکامه تجربه اوفیصله کوی . دعافیت په قدر هغه څوك پوهیږی چی په مصیبت اخته شی . عروج او اقتدار هلته دخدمت مصدرګرځیدی شی چی د زوال په صحنه یی ښه فکرکړی وی د پاکستان ملت نیکمرغه دی چی مشران یی که په عروج کی وی اوکه په زوال کی په یوه جهازکی سفرکولی شی هغه چی له اقتداره کوزشوی د کوزیدو په رازونو نورهم ځان پوهوی او دا کوزیدل یو درس ګڼی عملی درس داسی چی پخپلو سترګویی لیدل غواړی دا د عروج او زوال بیابیا تجربه ده کوم درس چی په زوال کی دی په عروج کی نشته . څوك چی له پریوتو غافل وی دهغوی عروج ناشوئی دی . د عروج یاران ډیروی او دزوال ډیر لږ ، بیخی لږ - دعروج د یاری استعداد عام دی له هرچاسره وی خو د زوال د یاری استعداد په ډك لاونج کی یواځی میامحمد جاوند څرګندوی اوبس :

دتهمتونو یاریی زه یم
د سپنی خولی یاران یی نورنیولی دینه

د ادب وزمې

چی کشور د افغانانو معطر کا
د هر بیت مصراع می زلفی دخوبان کړی

دغونچی د رباط ورپه وافکیدو دی
قافله د زنګ وبو دروی سباشو

ددی مخ چلوونکی: محمد آصف «صمیم»

دزړه خواله

، ادب ورمو درتولوستونکیو موږ ته دتیری ځانګړی ګنی په ایستو د بیلا بیلو تاثراتو سرغاتونه راولیږل . چاپه خولی او چا په قلم . چا پانه خوښه کړه او چانه ، چاپکی سیاسی بخی وکری او چاقومی ، په هرحال موږ د هرددرانه لوستونکی نظر دغړه هومره درنه ګنو ، څو خپله اراده او نیت هم را باندی ګران دی ، د تولو درتو ښه منم ، چی لږ ترلږه زموږ د قلم دڅاڅکو په رنګ خوبی خپل ارزښتمن وخت دومره ولګاوه ، چی موږ ته څه ووایی او یاولیکی .

د ادب ورمو په باب ځینی ذوقی اوسېلقوی مشوری اونغوتی موهم واوریدی ، هغه هم راته ترغوږتو درتی دی ، موږ خپلو تولو درتو لوستوالوته ډاډ ورکوو ، چی هغه څه به ستاسی مخی ته ږدو ، چی ستاسی خوښیږی ، که موږ یوازی خپله خوښه درنه ګنلای ، نوله ځان سره به ګرېدای اوتاسی به مونه مخاطبولی . نو چی ستاسی خوښی موهیله وی ، دا خوښی به ستاسی په لور ېینه او لاربښونه ترلاسه کوو .هلیه ده نه به موهیرږی.

په ټلوټلوکی د تیروګنو د سمون په باب دا یو څو یادونی هم اړینی بولو :

۱ - په رومبی ګڼه کی دشعروشاعری » نومی لیکنی ته خپل لیکوال نه ولیکل شوی ، چی باید (اطهرپرویز) د اردو ژبی لوی لیکوال ووسره ولولئ .

۲ - د رومبی ، ګنی طباعتی او املایی تیروتنی دومره زیاتی وی ، چی له موږ نه د سمون او ښښنی زغم اوښنه هم وتروړله : خو دا ځل ګل ښښه !

۳ - په دویمه ګڼه کی له راغلی ځلوریزی نه د استاد الفت نوم په تیرکی پاتی شوی و .

٤ - زموږ له زیاتی هڅی وهاند سره سره د استاد الفت روښانه عکس په لاس رانغی، هیله ده د انځوریز ذوق څاوندان به موږ وبښی .

له ګلدستی نه

حکایت

یو درویش مستجاب الدعوات په بغداد کی ښکاره شه ، حجاج بن یوسف چا خبرکر ، درویش یی وباله ، ورته یی ووی ، چی دعاراته وکړه . درویش ووی . خدایه ځان یی راتسی .

حجاج ووی : الله الله ! دا څه دعا ده ؟

وی : دا دعا دخیر ده ، تا لره او مسلمانانو لره ، که ته ومری ، ته به له ګناهونو خلاص شی ،مسلمانان ستا له ظلمه .

رباعی

چی دی لـه لاسه آزار وی زړونه   مرګ دی بهتر دی له دی ژوند وته
څو بـه دی بلی لمبی د ظلم وی   آخر بـه وسوزی دا اوروستا خونه

بیت

هسی رنګه ومره چی خپل ځان له خلقوخلاص کړی
نه چی بس سبب شی د خلاصی ، ستارحلت

له دستارنامی نه

خصلت د استغفار

هیڅوك به نه وی ، چی له ګناه به خلاص وی ، چی وجود وشو ، ورسره ګناه وشوه ، چی جامه وشوه ، ورسره خیری وشوی ، د جامی خیری په صابون لری کیږی ، د ګناه خیری په توبه په استغفار لری کیږی .

استغفار هرچاه لره بویه ، بلا د دیو ترغاړی دی حق تعالی په تائبانو هسی مین دی، لکه په عابدانو . ګناه کی به قصد وی ، که په نسیان ، په واړوکی امیدواری د مغفرت شته .

(لاتقنطوامن رحمة الله) که او یا ځله بنده په ورځ ګناه وکا، پری توبه وکاږی ، حق تعالی به یی قبلوی . سړی چی ګناه وکا، د کیڼی اوږی فرښته قلم واخی چی کښم . دښی اوږی فرښته ورته وایی چی ودرېږه ، مه کښه ، کوندی توبه کا . چی مؤمن توبه ، استغفار وکا ، د ګناه په ځای ثواب وکښی .

یادونه

ذبیح الله شرر زموږ دځوان کول هغه وياړلی بیلګه ده ، چی دقلم له ځیګره یی هره ځڅیدلی څاڅکی وینه دخپل رنځیدلی اولس د برخلیك په تاکنه کی ځلند ځای لری .که څه هم دی له ځنی (فطرت) نه سیاسی راغلی ، خو ادبی قریحه یی هم کله کله هنری هستونی کړی، د لنډوکیسو غونډ(کیاړی) به موږ لوستی یا کتلی وی ، پخپله شعر پیریان پری نه کینی ، خو شعر (ښه شعر) پیژنی . چی دا دی دغنی خان (لیونی فلسفی) دغه خوښ کړی نظم اوله هغی سره هغه رالیږلی څو کرښی یی دادبی قریحی ښه ترابښکارندویی کولای شی .

شاغلی شرر وایی چی :حتی دغنی خان مسلمانی ته می هم په شك کتلی وو ، زه پخپل ځانی د چا د ایمان او کفر حکم یوازی مؤمن به ذات ته پریږدم ، خو د ګران شرر د تسلی او پرځوښو ګړیو نظمونو سرېږه دغنی خان د مسلمانی لپاره دهغه دا بیلګه هم بسنده ګڼم : نه منم نه منم یاره مرګ انجام دهستی نه دی

خلاصیدل شراب په .ا‌م کی اختتام د مستی نه دی

دا هـم تاسی او دښاغلی شرر خوښه !

شه غلام د دی غلام
په دی ډیر اتبار زېږلدی
خاورو ختو کی پراته دی
چی خولی وار زما دی
که زما شوی زما خوانه
ګوره دا د زرو تخت دی
پاس په دی د پاسه کېنېنه
خوشحالېږه په خپل بخت
دا جامونه د شرابو
مسندونه د زربخت
دا سپرلی دا پېغلی مستی
ستا د سپینی ځوانی وخت دی
دا جنت د عیش او زوور
بل خوا اور د ا وره سخت دی
ځوانه څه ساقی له ورشه
کره دا سره سینه بالښت
ربه ځنګه سوداګردی
ځنګ ژوند ورکرم جهان واخلم
ځنګ نظر د سترګو ورکړم
او چشمی د مرجان واخلم
ځنګ بهار او سپرومی ورکرم
ولالانو وېران واخلم
ددی سرو دطوق بدل کی
څنګه دین او ایمان ورکرم
دربار دېری څنګه
بېخودی او جانان ورکرم
دا د نور او مستی ډك سر
په سجده کېږدم غلام ته
د قصاب د چیچړ ومېنه
څنګه وښایم خیام ته
څنګ د بل دتالی پاتی
کرم چوکه د مستی جام ته
څنګ دلدار په دنیا ورکرم
رقیب وخېژوم بام ته
